بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**ترڅو چې د آزادۍ الحادي مفکوره وي لوېديځوال به هېڅکله هم جنسي ځورونو ته د پای ټکی کې نږدي**



**خبر:**

په تېره میاشت کې د نوموتو لوېدیځوالو شخصیتونو پر وړاندې زیات شمېر د جنسي ځورونو ادعاګانې شوې، چې له رسنیو څخه نیولې ان د سایستوالو په ګډون په ټولنه کې پرې بحثونه وشول. د امریکا متحده ایالتونو سنا مجلس د یوې پراخې قانوني کړنلارې له لارې غواړي، چې د دغې موضوع د پوهاوي لپاره خپلو غړو او ادارې کارکوونکو ته روزنه ورکړي. ( سرچینه: Politico خبري سرچینه)

تېره پنجشنبې سنا مجلس هغه کړنلاره تصویب کړه، چې د جنسي ځورونې په اړه د سناتورانو او د سنا مجلس مرستیالانو د روزنې لپاره په لاره اچول کېږي، چې دا به د سنا مجلس له کورني سیستم سره د جنسي ځورونې د شکایتونو اړوند په تنظیم کې به مرسته وکړي.

د پولیټیکو خبري سرچینې د راپور پر بنسټ دواړو ګوندونو د جنسي ځورونې اړوند د روزنې پر سر د پلان په اړه خبرې اترې وکړې، چې په پیل کې یې اوسنیو او پخوانیو ښځینه قانون جوړوونکو او د سنا مرستیالانو په سنا کې د خپلو دندو د ترسره کولو پرمهال د جنسي زورزیاتیو اړوندې کیسې شریکې کړې. په سنا مجلس کې په کار ځایونو کې د جنسي ځورونې د پوهاوي په اړه په داسې حال کې خبرې کېږي، چې یو شمېر د جنسي ځورونې اړوند ادعاګانې شوي، چې دغو ادعاګانو د هالیوډ بنسټ له ننګونې سره مخ کړی دی. جمهوریت غوښتونکو د پنجشنبې په ورځ د هغه راپور په اړه، چې د الباما سنا نوماند رای موري (Roy Moore) یې د جنسي ځورونې په تور متهم کړی و، خبرې وکړې.

د سنا په مجلس کې د جنسي ځورونې اړوند د روزنې کړنلاره د جهوري پلوو مشر، میک مکونیل او د دیموکراټانو مشر، چک شومر له لوري تصویب شوه، چې د دغې کړنلارې له مخې به دواړو سناتورانو ته د ځورونې اړوند د زده کړې مواد چمتو شي او په دغې کړنلاره کې به د نژادي او مذهبي تبعیض پر وړاندې اصولو ته ځای ورکړل شي.

په کار ځایونو کې جنسي ځورونه یوه پراخه ستونزه ده، چې له امله یې مېرمنې او سړي په بېلابېلو ځایونو، مسلکونو او صنعتونو کې اغېزمن کېږي . د کړنلارې مسول مشر سین اې مي کلابوچر (Sen. Amy Klobuchar) په یوه بیانیه کې څرګنده کړه: « هر شخص د دندې پر مهال د خوندیتوب له حق او ارامتیا څخه برخمن دی او د سنا مجلس دغه رسمي تګلاره یو مهم ګام دی، چې کولی شي د دې مجلس اړوند د جنسي ځورونې قضیې حل کړي.

چهارشنبې په سنا مجلس کې نامتو شخص، سین شیلي موري کیپیتو(Sen. Shelley Moore Capito) وویل: که څه هم سناتورانو سنا مجلس ته د ځورونې د شکایتونو د کړنلارې د تنظیم په اړه بحث وکړ، خو په کړنلاره کې د جنسي او نورو ځورونو د پوهاوي له روزنې پرته بل څه نه دي تصویب شوي او دا روزنه له خوښې سره سمه اوس هم ادامه لري.

له دواړو ګوندونو څخه، تر ۱۰۰۰ زیاتو د کانګرېس مخکنیو مرستیالانو خپل دریځونه په دغې کړنلاره کې د لویو بدلونونو د راوستلو لپاره په ډاګه کړل، ترڅو په کانګرېس کې د جنسي قضیو د اصلاح په موخه ګام واخستل شي چې له قربانیانو څخه به د شکایت له ثبت څخه وړاندې د زغم، مشورې او منځګړیتوب غوښتنه کېږي.

**تبصره:**

د یوه زبرځواک هېواد په توګه په امریکا متحده ایالتونو کې د سنا مجلس د ستر سیاسي بنسټ حیثیت لري، خو لکه څرنګه چې د پولیټیکو خبري رسنۍ څرګنده کړه، چې په نوموړي سیاسي بنسټ کې جنسي ځورونه د ساري ناروغۍ په څېر خوره شوې. دا په داسې حال کې ده چې سناتورانو خپلې کړنې یوازې د جنسي ځورونې اړوند روزنې پورې محدودې کړې، خو د جنسي ځورونو په اړه روزنه لا له وړاندې په داوطلب شکل روانه وه. سنا مجلس  د وېرې له امله چمتو نه دی، چې د امریکا د سیاسي مشرانو پر وړاندې یوه ځانګړې شکایتي راپور ته اجازه ورکړي.

لکه څرنګه چې وروستیو مخ پر زیاتېدونکو پېښو څرګنده کړه، چې د جنسي ځورونې دغه کلتور نه یوازې تر امریکایي سیاستوالو پورې محدود دی بلکې په ټوله غربي ټولنه کې یې په بشپړ ډول وده کړې. په رښتیا سره، هر ډول آزار او ځورونه په لوېدیځ کې له لوبغالي تر کارځایه او آن په کورونو او کورنیو کې شته دي.

د آزادۍ له مفکورې څخه تمه کېده، چې انسان به د نورو له ظلم او تیري څخه وژغوري. خو د آزادۍ د مفکورې واقعت دا دی، چې دغه مفکوره په مسیحي اروپا کې د بې دینه سیکولرانو له لورې وړاندې شوه، ترڅو له دې لارې دوی د خپل ژوند ناوړه نقشه ثابته او الهي قانون رد کړي. د اروپا ګواښل شوي حاکم نظام د کلیسا په بدنامۍ کې ګټه ولیدله، نو ځکه یې له الحاد (بې دینۍ) سره جوړ جاړی وکړ، د آزادۍ او دېموکراسۍ مفکورې یې له سېکولرې ایډیولوژۍ سره وتړلې، چې له امله یې دین فردي او د خوښې په وړ موضوع پرېښودل شو.

په رښتیا سره، آزادي یوازې په افراطي بڼه د نفس د هوا او سختو احساساتو لامل شوې، چې له امله یې خلک هڅولي، چې څه غواړي نو ترسره یې کړي او یو پر بل باندې تیري او ظلم ته دوام ور کړي. دا څرګنده ده، چې ستر ځواک لرونکي هېوادونه به د کم ځواک لرونکو هېوادونو له ګواښلو او تهدیدولو څخه لاس وانخلي. همدا راز اسلام روښانه کړې، چې الهي قانون د طبعي اړتیاوو مخه نه نیسي، بلکې د عادلانه او ځانګړې طریقې پر بنسټ هغوی اداره کوي پرته له دې چې پر یو او بل تیری وشي. لاندې قرآني ایاتونو ته په کتو سره، قرآن د سړي او ښځې تر منځ  ناروا اړیکې داسې بیانوي:

**﴿وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً﴾**

ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ. هغه ډېر ناوړه کار او ډېره بده لاره ده.

[الاسراء: ۳۲]

**﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ﴾**

ژباړه: اې پېغمبره! مومنو نارینه و ته ووایه، خپلې سترګې تر کنترول لاندې وساتئ او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړئ، چې دا د هغوی لپاره پاکوونکې ده.

[النور:۳۰]

**﴿وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمْ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ﴾**

ژباړه: او څوک چې د نکاح اسباب و نه مومي هغوی باید پاکلمني غوره کړي، تر دې چې الله په خپلې پېرزوینې سره هغوی شتمن کړي.

[ النور:۳۳]

پورته قراني آیاتونه د مسولیت  او مکلفیت یوه مفکوره وړاندې کوي، چې له مخې یې مسلمانان پاکلمنۍ ته هڅوي او ټول هغه مسایل ردوي، چې د آزادۍ د مفکورې پر بنسټ د ملحدانو او سیکولرانو له لورې په لاره اچول شوي. د الله په ارادې سره، هغه وخت را نږدې شوی، چې مسلمانان به یو ځل بیا پر نبوي طریقه اسلامي خلافت تاسیس کړي، ټول بشریت به یو

واحد دین ته راستانه کړي، الحادي مفکوره او سیکولر ثقافت چې اوس عملي اړخ لري په بشپړ ډول له منځه یوسي او رد کړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: فایق نجاح**

**ژباړن: خبیب**